

**نورمحمد غفوري**

# دا حالات چاته د زغم وي؟

په هېواد کې مو چې شپه او ورځ مـاتم وي! نو به څه شوق د وصال او د صنم وي؟

په وطن چې اور بل شوی، دود جګــیري چې بې غمه ناست وي، کله به آدم وي؟

پــــه اوږو چې د زامــنو جــنازې وړو خود به جوړې ویالې، د سترګو نم وي!

بیســـواده چې حـــاکم، عــالم ګـدا وی دا وضعیت به نو د چا په فکر سم وي؟

چې چوکۍ په مـیراِثي ډول تقسیم شی اې ځوانانو دا حالات چاته د زغم وي؟

چې ملـت پـــه اتفـاق قـدم وانخــــلي نـو په بـرخه به يې خـود، دایم الم وي

چې يې توان د اداري د مـنصب نــه وي نـاپوهان بـه وي چې بیا ورتـه اړم وي؟

که (بـدلون) تـه لاس وا نه چوو مـلګـرو (تـــداوم) به مو د ژوند تـر پایه غم وي

که مو بام پرې تکیه نه شي، ستون څه کړو نـــړوو بې! کـه اول او کـه پنځـم وي

که دا علم، صداقت معیار د سنج شي

(غفوري) به نـو له چانه کله کم وي؟

١٠ /١٢/ ٢٠١٥